# څو عشقی شعرونه

---

## ساغر کی راکه

د تاک ترخې اوبو  ساغر کې راکه
زړمې نیشه که سر  په  سر کې راکه
ساقي بیلتون  د  یا ر  سوځلې یمه
غم مې زر ورک که بې خبر کې راکه
ځمه  ګودر  ته  که  آشنا  ووینم
څو ډک جا مونه  ما زدیګر کې راکه
ګوندې پر (مل) که زړه یې ورحمیږي
د  مې له  ډُرده  په  اخر کې راکه

*** جرمنی 2019-05-19

## نه مې ژړل

که  په  دیدار  دې  مړیدم  نه  مې ژړل  درپسې
له  ما  چې  شا  دې  اړول  نه  مې کتل  درپسې
تا خو  له  ما نه  په  مکیزو  سره  زړه  ویورله
که ستا نخرې نه وایی ماهم  هیڅ نه لیدل  درپسې
د خپلې مینې په  حرم کې  دی  میلمه  نکړمه
که نه مې زړه په اورکې هیڅ نه  سوځیدل درپسې
د بیلتا نه په سرو سکروټو  کې  دی وریته  کړمه
زه روغ سړی اوم زړه مې هیڅ نه ځوریدل درپسې

**** جرمنی 2019-05-30

## منلی

تغافل سره نخری یی په زړه اور لګول دي
هر ادا او هر مسکا یی له مین خپل زړه وړل دي
بی جوړه ښاپیري دي سیال یی نشته په ټول ښار
په مکیزو کتل یی د رغبت راپارول دي
په کاجل توری سترګی د منې په رنګ رخسار یي
اونی لښته د سنبل ښکلی پیغلی د کابل دي
چی هرڅومره یی صفت کړم خوله مي نه ستړی کیږي
ځما یواځی غوښتنه له هغی مینه منل دي
**** جرمنی 2019-05-25

## نه مړه کیږی

د اوریني میني اور زر نه مړه کیږي
د ریښتینی عشق شمع نه ویلیږي
دمینو په خوښه چی وی زړونه پیوند شوي
هغه مینی خط د کانی پاتي کیږي
چا چي یوځل دزړه وړي یار شکار شي
بی د یار له میني هرشی تری هیریږي
د آشنا د میني سیند کی تل لاهو وي
ژوند لا څه چي په ځرتونو کي ډوبیږي
*** جرمنی 2019-05-20